مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالهادي هادي

۲۰۲۳/۰۴/۲۲

فاصله

د اختر شپې دي، خپګانونه هیرول پکار دي. ټولو ته دې ډالۍ وي.

مړې تر څو؟ د شر کیسه همدلته ختمه ښه ده
زه ملامت او ته یې ښه همدلته ختمه ښه ده

سینه راجوخته کړه، راځه چې سره زړونه یو کړو
د نفرتونو توره شپه همدلته ختمه ښه ده

منډې خو موږ وهلې، ودې لیدل څه راوشول؟
یاره دا نوې تجربه همدلته ختمه ښه ده

څومره نیژدې یو، څومره ډېر لرې پراته یو موږه!
بلاوهلې فاصله همدلته ختمه ښه ده

نور به تر مرګه په نفرت پورې خندا کوو موږ
بس ده د کرکو سلسله همدلته ختمه ښه ده

ګرانې هادي په زړګي پاک دی خو ماشوم شي کله
په زړه کې نه ساتي کینه همدلته ختمه ښه ده



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ